# حقیقت پاڼه

**Oregon Farm Direct Nutrition Program**



## د اوریګون فارم مستقیم (Farm Direct) د تغذیې برنامه څه ده؟

د میرمنو، کوچنیانو او ماشومانو د ځانګړې اضافي تغذیې برنامې (WIC) کورنۍ او د عاید وړ مشران د vouchers (د پیسو ضمانت لیکونه) ترلاسه کوي چې په مستقیمه توګه ځایي بزګرانو سره یې مصرف کړي څوک چې میوې او سبزیانې کري.

د فارم مستقیم تغذیي برنامه ("د فارم مستقیم") کورنیو او مشرانو ته د تازه محصولاتو غوره کولو او چمتو کولو په اړه د تغذیوي خواړو او زده کړې اضافي سرچینه چمتو کوي. فارم مستقیم د محلي بزګرانو بازارونو او بزګرانو سره هم مرسته کوي.

د اوریګون برنامه په فدرالي ډول د USDA د بزګرانو بازار د تغذیي برنامې ګرانټ (منل شوې نغذي مرسته) لخوا تمویل کیږي او د دولت د عمومي تمویل ملاتړ باندې هم حساب کوي.

## د WIC کورنۍ ګډون

د WIC ګډون وال د $28 په ارزښت د فارم مستقیم ډالر (Farm Direct Dollars) د خپل محلي کلینیک له لارې د ټولګي، انفرادي ملاقات په وخت یا ځینې وختونه د کروندګرو په بازار کې ترلاسه کوي.

فارم مستقیم یوازې د متنوع لارو څخه یوه لار ده چې د WIC برخه اخیستونکو کورنیو ته د تغذیې زده کړې او تغذیه ه چمتو کوي. WIC د ټیټ عاید امیندواره میرمنو، وروسته تر زیږون او شیدې ورکونکو میرمنو، کوچنیانو او د 5 کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومانو ته خدمتونه وړاندي کوي چې د روغتیا یا تغذیې خطر سره مخ وي. میرمنې، کوچنیان او د 4 میاشتو څخه ډیر عمر لرونکي ماشومان په فارم مستقیم کې د ګډون کولو وړ دي.

## د مشرانو ګډون

هر کال وړ مشران د اپریل په وروستیو کې د دولت څخه یو لیک ترلاسه کوي چې دوي ته به په برنامه کې د ګډون بلنه ورکړي. لیواله مشران باید تر ښودل شوي نیټې پورې ځواب ووایي ترڅو د فارم مستقیم ډالر کې $32 ترلاسه کړي. که چیرې د ټولو ځواب ورکوونکو خدمت لپاره کافي بودیجه شتون ونلري، ګډونوال به په ناترتیب (ناټاکلي) ډول د ترلاسه شوي ځوابونو څخه غوره شي.

مشران باید په 1 اپریل د وړګرځیدلو لپاره لږ تر لږه 62 کلن وي او باید د Medicaid یا SNAP (خوراکي ټاپي) ترلاسه کوي. سربیره پردې، مشران نشي کولی په داسې مرکزونو کې ژوند وکړي چیرې چې خواړه چمتو کیږي، او د برنامې لپاره باید د میاشتني عاید لارښوونو لاندې وي.

د نورو معلوماتو لپاره د SeniorFarmDirect.Oregon.gov څخه لیدنه وکړئ.

## د فارم مستقیم ډالر چیرته کارول کیدی شي؟

په ټول ایالت کې د 700 برخه اخیستونکو بزګرانو سره، په هر اوریګون کاونټي کې د فارم مستقیم ډالر مصرفولو لپاره ډیری ځایونه شتون لري. تاسو ته نږدې د بزګرانو بازارونو او فارم سټینډونو (د بزګرانو د ګښت ځایونو ته نږدې سټینډ چیرته چې بزګر خپل محصولات او حاصل خرڅلاو ته وړاندې کوي) کې د برخه اخستلو لارښود لپاره د myoregonfarm.org څخه لیدنه وکړئ.

## کوم خواړه اخیستل کیدی شي؟

د فارم مستقیم ډالر یوازې د تازه ځایي کرل شوې میوو، سبزیجاتو او د پخلي بوټو لپاره کارول کیدی شي. هغه توکي چې پیرودل کیدی نشي په هغې کې شامل دي وچې میوې، جامونه (مربه ګانې)، شات، نباتات، یا هغه میوې/سبزیجات چې په اوریګون کې نه کرل کیږي (لکه کیلې).




## ولې یوازې په محلي توګه کرل شوي محصولات؟

برنامه د اوریګون کورنیو سره مرسته کوي چې د ځایی بزګرانو او کلیواله (اطرافي) ټولنو ملاتړ وکړي. په سوپر مارکیټ کې تولیدات (محصولات) ښایي د ځایي بزګر څخه نه راځي. د بزګر څخه مستقیم پیرود پدې معنی دی چې دوي د هر فارم مستقیم ډالر 100% ترلاسه کوي.

## کله د فارم مستقیم ډالر کارول کیدی شي؟

د جون 1 او نومبر 30 ترمنځ.



USDA د یو مساوي فرصت برابرونکی دی. تاسو کولی شئ دا سند په نورو ژبو، لوی چاپ، بریل یا په هغه بڼه ترلاسه کړئ چې تاسو یې غوره کوئ. د اوریګون WIC سره په 971-673-0040 اړیکه ونیسئ. موږ ټول ریلي زنګونه (هغه کسانو لپاره چې په سمه توګه اوریدل او ویل نشي کولی) منو یا تاسو کولی شئ 711 ډایل کړئ.

## فارم مستقیم ځایي بزګرو ته څه ډول ګټه رسوي؟

ګډون کونکي بزګران نوي پیرودونکي پیدا کوي او د فارم مستقیم ډالر د مخ ارزښت ورته ورکول کیږي؛ دا د دوی عاید زیاتوي او د کرنې په ساتلو کې مرسته کوي. په بدل کې، بزګران هغه ډالر په خپلو ټولنو خرڅ کوي، کوم چې سیمه ایز اقتصادي پرمختګ ته وده ورکوي. فارم مستقیم هر کال د اوریګون کروندګرو لاسونو ته له $1.5 میلیون څخه ډیر راوړي. په سوداګرۍ کې د ځایی فارمونو ساتل زموږ د ټولنو او همدارنګه زموږ د روغتیا لپاره مهم دي.

## نورې پوښتنې؟

- **د WIC ګډون:**
  خپل ځایي WIC کلینیک ته زنګ ووهئ یا 211 ډایل کړئ، وړیا، تر ټولو نږدې د WIC کلینیک موندلو لپاره
- **د مشرانو ګډون:**
  مشر فارم مستقیم ته زنګ ووهئ په وړیا شمیره 1-866-299-3562
- **بزګران، د بزګرانو بازار او عمومي پوښتنې:**
  877-807-0889 ته زنګ ووهئ، 2 اختیار، یا بریښنالیک واستوئ په oregon.fdnp@state.or.us
- **د نورو معلوماتو لپاره:**
  د myoregonfarm.org څخه لیدنه وکړئ

بیاکتنه 1/2023

Oregon Farm Direct Nutrition Program

WIC OREGON · Oregon Health Authority · DHS Oregon Department of Human Services